ددغو دوجمهوریتونو د اختلافاتو مرکزي نقطه د «ناګورنوقره باغ» سیمه ده چې د ۱۹۲۳ میلادي کال نه راپه دیخوا د آذریانو له خوا اداره کیږي اوارمنیان ددې غوښتونکي دي چې دغه سیمه دې د ارمنستان په جمهوریت پورې وتړل شي.

ارمنیانو له پرانیستې سیاسي فضا څخه چې په شوروي کښې د ګورباچوف د اصلاحاتو په وسیله مینځ ته راغلې وه، په استفادې اوپه دې پلمه چې د ناګورنو قره باغ د اوسیدونکو زیاتره برخه ارمنیان دي، له ارمنستان سره ددغو جمهوریت د یوځاي کیدو غوښتونکي شول، خود ارمنیانو ددغې نامعقولې غوښتنې سره د آذربایجانیانو طبیعي اوپه ځاي مخالفت په دواړو جمهوریتونو آذربایجان اوارمنستان کښې د خونړیو پیښو موجبات برابرکړل.

د آذربایجان مسلمان ولس چې له یوې خوا د کمونیستانو ظلم او تشدد ځپلي ژ اود الحادي فرهنګ په وړاندې یې مقاومت کړي ژ اوله بلې خوا د ارمنستان د تړادي لمسونو په وړاندې دبومضاعت ظلم لاندې راغلي ژ، په دې ښه پوهیدل چې روسان اوغربیان له ارمنیانو ته ملاتړکوي اوپه دې ترګه په آذربایجان کښې د اسلامي خوځښتونو دودې اوپراختیا نه مخنیوي کوي. همدا لامل ژ کله چې په ۱۹۸۸ میلادي کال ددسمبر د میاشتې په وروستیو کښې د آذربایجان مسلمانانو خلکو له روسیې نه د استقلال اواسلامي هویت ته د بیرته ورګرزیدو په پلوي مظاهرې وکړې نو د مسکو واکدارانو ددغو مسلمانانو مظاهره کوونکو د ټکولو لپاره خپل عسکر اوټانکونه آذربایجان ته ولیږل اودباکوښاریې د مسلمانانو په وینو رنګ کړ. ددغې پېښې په مقابل کښې دروسانو اطلاعاتي وسایلو دوژل شویوکسانو شمیر ۷۰ نه تر ۸۰ تنو پورې وښود خو په پاکستان کښې چاپیدونکي ورځپاڼې «جسارت» په دې هکله ولیکل چې ددغه کال د جنوري د میاشتې تر ۳۱ نیټې پورې په آذربایجان کښې ۳۰۰۰ تنه مسلمان مظاهره کوونکي د روسي عسکرو د ظلم اوتشدد په نتیجه کښې په شهادت رسیدلي دي. دغې موضوع ته که سړي په ځیر سره وګوري نودې نتیجې ته رسیږي چې د ناګورنو قره باغ په لانجه کې روسانو دارمنیانو پلوي کوله اود آذریانو دمقابلې له پاره یې په شاتړول.

د ناګورنوقره باغ د مسئلې په سر دارمنستان اوآذربایجان د قواؤ دنښتو څخه تراوسه ځلور کلونه تیریږي اوپه دې ترڅ کښې په زرګونه کسان له دواړو خواوونه وژل شوي. خود مسئلې دحل لپاره کوم جامع اوهراړخیز حل نه دي پیداشوي او دغې جګړې اوس قومي اوعقیدوي بڼه خپله کړې اوکیداي شي چې د سیمې نور هیوادونه هم پکښې راښکیل شي.

د ارمنیانو ددغه یرغلګر دریځ په وړاندې اوس د آذریانو دفاعي موقف خورا پیاوړي شوي اود آذربایجان مسلمان اولس دخپلې خاورې د تمامیت د تأمین لپاره له جمهور رئیس ایاز مطالیوف نه وغوښتل چې باید د ارمنستان د تجاوکونو د مقابلې لپاره ټوخ دریځ ونیسي اویادې استعفا ورکړي. همدغه ژ چې ایازمطالیوف دخپل ولس دوهې غوښتنې ته غاړه کیښوده اودمارچ د میاشتې په شپږمه نیټه یې استعفا وکړه اوده جمهوري ریاست چارې نیازوف محصوف ته وروسپارل شوې.

اکثره کترنکي په دې عقیده دي چې محصوف کمزوري

شخصیت لري او اصلي قدرت به د ملیت پاله رادیکاله ولي مشران په لاس کښې ونیسي.

سولي قسیموف د اولسي جبهې د پخواني مخالف ګوند مشر چې همدا اوس د آذربایجان د نوي اساسي قانون د تدوین د کمیسیون ریاست په غاړه لري له بي، بي، سي سره په مرکه کښې وویل چې دناګورنو قره باغ د مسئلې د حل لپاره له روسیې نه د مرستې په غوښتلو کښې ایاز مطالیوف اشتباه وکړه. هغه زیاته کړه چې روسیې فقط یوه ګټه په نظرکښې درلوده اوهغه داوه چې په سیمه کښې دخپل نفوذ د ساتلو لپاره د خلکو یوه دله د بلې دلې په مقابل کښې ولسوي. اودپخواني شوروي اتحاد له رنګیدونه وروسته دنویو آزادشویو جمهوریتونو د مشترك المنافع ټولنه د روسیې لپاره یوه داسې وسیله شوه څو دپخوا په شان وکولاي شي خپل امپریالیستي اهداف تعقیب کړي.

قسیموف وایي چې د آذربایجان پارلمان د مشترك المنافع د مستقلو جمهوریتونو په ټولنه کښې د آذربایجان د شاملیدو پریکړه نه کړې اوله دې وروسته به یې هم ونکړي. نوموړي زیاته کړه چې آذربایجان، له ارمنستان سره په ګډه پوله کښې خپل دفاعي سنګرونه ټینګوي څو قره باغ ته د ارمني جنګیالانو دورتګ اوسیمې ته دوسلو له رسولونه مخنیوي وشي اوددې کار د تکمیل لپاره د آذربایجان جمهوریت یوې داسې اردو جوړولوته اړتیا لري چې په هغې کښې له ۲۰ زرونه نیولې تر ۳۰ زرو تنو پورې افراد شمولیت ولري اوله بلې خواله روسیې سره هم د یوه ترون لاسلیکولو ته ضرورت احساسوي چې په آذربایجان کښې دیره د مشترك المنافع د ټولنې ځواکونه په دغــې ستونزه کښې دخالت ونکړي.

په آذربایجان کښې له دغو سیاسي بدګونونه وروسته ارمنستان له یوه سخت اقتصادي بحران سره مخامخ شو او ددغه جمهوریت حکومت د پنجشنبې په ورځ اعلان وکړ چې د هیواد اقتصادي حالت ډیر خراب دي اوکوم تیل اودسون مواد چې د آذربایجان له لارې ارمنستان ته راوړل کیدل د آذریانو لخوا مصادره شوي اوصنعتي کارخانې چې تراوسه په ډیرو مشکلو حالاتو کښې د انرژۍ له محدودیت نه مستثنی وې له دې وروسته مستثنی ندي.

نواوس که د آذربایجان اوارمنستان د مقاماتو رسمي بیانیوته وکتل شي نودانتیجه اخیستلاي شو چې د آذربایجان سیاسي بدلون دارمنستان په مقابل کښې ددغه هیواد دریځ پیاوړي کړي اودبیو نظامي او سیاسي مقاومت لپاره یې ورسره مرسته وکړي. بالعکس د ارمنستان ټولې مواصلاتي لارې له آذربایجان اوترکیې نه تیرې شوي اوددغو لارو په قطع کیدو سره به د ارمنستان اقتصادي وضع لا خرابه شي. ترکیې هم ارمنستان ته ګواښ کړي چې که چیرې ارمنستان د ناګورنو قره باغ د نیولو مبارزه خوشې نکړي نو هغه لاریه وریاندې بنده کړي کومه چې دغه هیواد د ترکیې له لارې توري بحیرې سره وصل کوي.

د ترکیې جمهور رئیس تورګوت اوزال د «تایمز مالي» له ورځپاڼې سره په یوه مرکه کښې وویل چې د ترکیې خلك اوس ددې زیات احساس کوي چې دهغوي حکومت دې باید د آذربایجان له خلکو سره مرسته وکړي.

په پاي کښې باید ووېل شي چې کفري ځواکونه همدا اوس هم له غیرو مستقیمو لارونه د ارمنستان له جنګیالیانو سره مرسته کوي اومسلمانانو هیوادونوته هم په کارده چې د ناګورنو قره باغ په مسئله کښې آذریان پرالغې پریندي اوددغه هیواد د مسلمانانو هیلوته دي مثبت ځواب ورکړي.

کســــات

عبدالمجید « هدایت »

عادل خلیفه عمر بن الخطاب د ځېنې نورو اصحابانو سره په یو مجلس کښې ناست ژ دوه ځوانان چې یوبل ځلمي یې د منځ څخه نیولي ژ مجلس ته داخلیږي اودري واړه دعمر«رض» مخ کښې ودریږي.

ځوانان: امیرالمؤمنینه! دې ځلمي زمونږه پلار وژلي تاته مو راؤست ترڅو زمونږ دپلار کسات ترینه واخلي اویه قصاص یې ورسوي.

عمر «رض»: قاتله ستا جریمه ډیره لویه اوستره ده ایاته نه پوهیږې چې په اسلام کښې دوژلو جزا قصاص دي.

ځلمي: امیرالمؤمنینه هیله کوم چې زما قصه واوري بیا چې څنګه فیصله کوي هغه به ستا خوښه اوزمامرضي وي.

مدعیان: ستا قصه داده چې یو سپین ږیري بوډا دي وژلي موږ ونیولي اودلته مو راوستي ترڅو خلیفه ستا په شان کښې فیصله وکړي.

عمر «رض»: ځوانانو تاسي چپ شي زه غواړم چې د ځلمي قصه واورم.

ځلمي: امیر المؤمنینه زه په خپلو اوښانو پسې شاته روان وم زما په اوښانو کښې یو اوښ تر ټولو ښښتلي اوزما ډیر خوښ ژ. زما اوښان د یوې باغچې په څواکښې تیریدل چې تازه یې ونو څانګې کړي وې اوښانو مې دونو څانګوته خولې واچولې اود ونو څانګې یې وخوړلې ماکوښښ وکړ چې اوښان دونو دڅانګو څخه لرې کړم نور اوښان مې لرې ووېدل دونو دڅانګو څخه لرې شول خو زما هغه تر ټولو ښښتلي اوښ لرې نشو شو.

عمر «رض»: نوبیاڅه وشول؟

ځلمي. دباغچې نه یو بوډا راووت په لاس کښې یې یوه غټه ګټه «تیږه» نیولې وه په تیږه باندې یې زما دا ښکلي اوښ په سر وویشت اوښ په ځمکه پریوت اومړ شو.

عمر «رض»: نوبیا څه وشول؟

ځلمي: زه په دې وخت کښې سخت قهرجن شوم هماغه د بوډا تیږه مې راپورته کړه اوبوډا مې وریاندې وویشت مافکرنه کولو چې بوډا به مړشي لکن تیږه یې په سر ولګیده اودارنګه بوډا مړشو.

عمر «رض»: ځلمیه! ستا جزا داده چې د بوډا غوندې به په قتل رسیږې.

مدعیان: امیر المؤمنینه دا ستا پریکړه ډیره ښکلې او مناسبه پریکړه ده.

ځلمي: زه دعادل خلیفه «فیصله کوم اعتراض نلرم خوزما قصه لا پاي ته نده رسیدلې.

عمر «رض»: څه پکښې نوریاتي دي پوره یې کړه.

ځلمي: زما پلار په حق ورسیدو او یوکوچنې ورور مې یتیم پاتې شو ورڅوه مې دهغه نه ډیر مال پاتې شو اومال یې زما سره امانت ژ ما دامال پداسې پټ ځاي کښې ښخ کړي چې پرته له ما بل هیچا ندي لیدلي داکار مې پدې خاطر وکړ چې د ورور مال مې ضائع نشي اوچه کله غټ شي نو ور ته یې سپارم.

عمر «رض»: نوڅه غواړې؟

ځلمي: زه دامیر المؤمنین څخه غواړم چې ماته درې ورځې مهلت راکړي پدې ورځو کښې به خپل کلي ته لاړشم هغه د ورور مال به مې کوم بل چاته امانت کښیږدم چې کله مې وروړ غټ شي بیاني وریاندې وسپاري. ددې نه وروسته بیرته دلته خامخا راځم.

عمر «رض»: ترڅو چه ته راځې ستا ضمانت به څوك کوي؟

پدې وخت کښې ځلمي په مجلس کښې ناستو اصحابانو ته ترڅو ځله په څیر څیر ګوري اوبیا الآخره په حضرت ابي ذره «رض» ګوته پدې او ورته وائي: عزتمنده مشره ایاته به زما ضمانت وکړې.

ابو ذر «رض»: هوا زه تردرې ورځو پورې ستا ضمانت کولاي شم.

ځلمي: مشره ستا څخه ډیره مننه کوم که خداي کول په دریمه ورځ به بیرته همدلته حاضریږم.

درې ورځې وروسته هغه دوه ورونه د خلیفه مجلس ته داخلیږي او وائي: ـ مونږ راغلو ترڅو دخپل پلار دقاتل جزا په خپلو سترګو وګورو!

عمر «رض»: انتظار وباسي ترڅو چې ځلمي راشي.

پدې وخت کښې عمر «ابو ذرته وایي دادي ورځ تزدې ده چې پای ته ورسیږي اوهغه ځلمي چې تاتې ضمانت کړي لاندي معلوم شوي. ابي ذره که چیرې نوموړي ځلمي رانغلو نودهغه په ځاي به ته په جزا ورسیږې.

ابوذر: ـ زه هیله کوم چې نن به راپیداشي هو ماتې ضمانت کړي ځکه چې په ټول مجلس کښې یې یواځې په ماګوته کښیوده نوما دا دځان لپاره شرم اوعار وګڼلو چې دهغه غوښتنې ته دنه ځواب ورکړم - پدې وخت کښې ټول چپ کیږي اوځلمي لرې ښکاري چې ددوې په لوري ډیرې چټکتیا سره را روان دي.

ځلمي: ـ وبښې زه تاسي ته ددې امله ناوخته راورسیدم چې د ډیرې لرې مسافې مزل مې ترشا پریښود.

ځلمي پدې وخت کښې مخ ابو ذرته اړوي او وایي مشره ستا څخه ډیره مننه اوشکریه ماستا دمهرباني په مرسته وکولاي شول چې دخپل کوچني ورور په هکله داوه اومطمئن شم دهغه مال بل سړي ته وسپارم چې کله غټ شي ورته وبې سپاري اوس راغلم ترڅو په هغې وعدې وفا وکړم چې ستا سره مې کړې وه. بیا هم ستا نه ډیره مننه اوشکریه کله چې ځوانان دځلمي وفاداري ګوري دهغه دلوړ شخصیت د اغیزې لاندې راځي او وائي مونږ دخپل حق نه تیرشو امیر المؤمنینه مونږه د امین او وفا کوونکي ځلمي وبښلو.

عمر «رض»: ـ نه دا ستاسي حق دي ځلمي ځوانانوته مخ اړوي او ورته وایي زه ستاسي داحسان اوشکر د اداکولو څخه عاجزیم.

عمر «رض»: ـ عمر درې واړه ځلمیانو او ابي ذرته مخ اړوي او وائي خومره غوره اومبارك دي اسلامي اخلاق اوڅومره ښه عدل او مساوات دي په اسلام کښې ابي ذرته بهادریې ځلمیه! ته امین او وفا لرونکي یې اوځلمیانو تاسي دغوره شخصیت اوغیرت څښتنان یې یوتربله سره لاسونه ورکړي اویوتربله سره غاړې غړي شي په ریښتیا چې تاسي ټول باتوران او ریښتني مسلمانان یې.

اقوال زرین

*- عاقل کسي است که زبان خودرا ازغیبت نګاه دارد.
*- عاقل همیشه ازبدبختي دیګران تجربه میګیرد.
*- غیبت کردن اخرین تلاش افراد ناتوان است.
*- قوه صبر وحوصله ازبزرګترین مزایاي عالیه انسان بشمار میرود.
*- قوي ترین کسي آنست که نفس خودرا تابع عقل ګرداند وتوسط عقل بالاي نفس خود حاکمیت داشته باشد.
*- قناعت سبب سعادت است.
*- کوشش کنید که ازتشنګي بمیرید ولي ابروي تان رامیریزانید.
*- کار امروز درهمین روزبطور صداقت ودلپسندي انجام دهید این یګانه راهي خوشبختي یومیه شما میباشد وآینده تانرا تضمین میکند.
*- این نکته را همیشه بخاطر داشته باشید که هرکس به مجازات عمل بد خود خواهید رسید.
*- کسیکه به خداونـد «ج» وروز جزا، خودرا معتقد سازند موفقیتهاي زیادي ازین راه نصیب شان خواهند ګردید.
*- کسیکه ازحقوق برادر خود درغیابش حمایت کند خداونـد اورا ازعذاب دوزخ نجات دهند.
* کسیکه درطلب علم ازخانه بیرون شد تاهنګام مراجعت اودرراه خداوند تمام رفتن وامدنش درحسنات حساب میګردد.
*- کسیکه تاچهل روز احتکار خودرا دوام بدهد ازاطاعت امرخارج وخداوند ازوي بیزاراست.
*- ازکسانیکه ګوشت بدنش ازحرام نشو ونمایافته باشدسزاواراتش است.
*- کسیکه امانت رامراعات نکند مؤمن کامل نیست وهمچنین کسیکه بعهد وپیمان خود وفانکند داراي دین کامل نمیباشد.
*- کوره را براي دشمنان خود انقدر ګرم مکن که حرارت ان خودت رابسوزاند.

ګرد اورنده محمد ظاهر «ستانیزي»

سرنوشت نهضت وفرداي ...

سیاست نهضت لزوماً ګرفته شود وافتخارات جهاني نهضت انقلابي اخوان المسلمین درعصر حاضر که فروغ مشیله، آن درقیام ومبارزات اسلامي ملت متدین ومجاهد افغانستان طلیعه ایست افول ناپذیر وشعله، ایست نوراني که براي جاودان فروزان است ومقدمه اي است براي ظهور حضرت مهدي علیه الصلوة والسلام که تابیان آن قبـل ازظهـورش آشکـارمي شوند وبجهـاد ادامه میدهند.

فرصـت مختـصـر به هـمـه پـرسـي ازفرد تا اجتماع ازګروه تافرقه فرارسیدني است وهرګاه روشنتر وپوست کنده بګویم: بیائید ازخود بپرسیم، عون وخون، عدل وظلم، شرافت وشرارت صلاح وفساد، اطاعت ومعصیت، وفا وجفا، دلسوزي وقساوت، دعوت وبغاوت و . . . بادرنظرداشت دسائیر پروردګار (ج) وسنت خیر الابرار (ص) وبا اعتقاد وعمل لازم بکدام پیمانه اصول شرع مقدس را درزندګي دعوت، هجرت، جهاد رعایت وعملاً درصحنه پیاده نموده ایم!

وآیا ما اهلیت وظرفیت آنرا داریم که درآینده، اسلامي افغانستان که ازهمین دم نګهت عنبرینش ازآنسوي دیار وتبارمان روح انګیزاست وباوصف خلاهاي موجود وتعاملات مطرود نقش ایماني واسلامي خود را به صفت یك عنصر متحزب اسلام وداعیه نهضت بازي نمائیم مي باید قبل ازرسیدن بهدف خلاوخلل داخل صف وتشخصات مکروه، ممنوع و ناروا وصفات قبیحه را نابود سازیم ومبارزه، عادلانه را فرداً فرداً وجمعاً جمعاً ونظماً نظماً ازخود شروع نمائیم تابهترین راه ووسیله، پیروزي را آفریدګار درنصیب مان ګرداند طوریکه فرمان میدهد.

ترجمه: « ونه سست شوید ونه اندوهګین باشید وشمابرترید بشرطیکه مؤمنان (واقعي) باشید. » براي اثبات مدعا اکتفاء به این آیت کریمه شد.

نتیجه وفشرده، سخن درین راستابرین اتفاق مي افتد. کوله بار رنجهاي فراوان وزحمات بي پایان ومشقات اصولاً وبنیاداً بردوش همه طلایه داران نهضت اسلامي وراهیان هدفمند جهاد مسلحانه ومقتبسین مشعل دعوت است وبه سه کلمه مختصرمي شود: علماء، عاملین، مؤمنان مجاهد ودعوتګران حقاني که درین کتګوري افاضل واسافل همه شامل است. بګذارید غوغاي رهزنان ودسایس منافقان وتآمرکافران یقیناً که کیدومکر وترفند آنها به قدر بال مګس اثري نداشته وندارد وسرانجام بکیفرخدعه وخصومت وتشاؤم خود که نسبت به مؤمنان دارند میرسند ومهلت محدود راحضرت حق سبحانه وتعالي براي آنان میدهد تا بیازماید مؤمنان را وتمحیص نماید صفوف مخلصان ودلدادګان اسلام را وممتاز سازد ګروه مجرمان وتبهکاران را وتطهیر وتزکیه بخشد قلوب دردمندان رابصفاي تسبیح ونزول رحمت ازجانب رب العزت.

اوضاع کنوني ...

الجزایر درحالیکه یکي ازجمله، کشورهاي اسلامي بوده ومي باشد، اما ازاینکه درګذشته جزو مستعمره، فرانسه بوده، لهذا اکنون نیز تاثیرات ونفوذ آن کشور وسایر کشورهاي غربي برآن ازهمه بیشتر محسوس است، حکومت موجوده، الجزایر که به اساس همین تاثیرات ونفوذ کشور هاي متذکره بیك شکل کودتاي قانوني درآنکشور بوجود آمده، دراین اواخر بنابر اشارات بخصوصي غربي ها درصدد دستګیري وسرکوب نمودن فعالین مسلمان آنکشوربوده ومي باشد.

جبهه، نجات اسلامي الجزایر که پیوسته به تحکیم نظام چند حزبي درآنکشور درسال ۱۹۸۹ یعني زمانیکه شاذلي بن جدید زمامدار آنکشور بود حیثیت قانوني را بخود کسب نمود ومتعاقباً درآن زمان ازطریق یك انتخابات سرتاسري درپارلمان دولتي آنکشورنیز راه یافت، ګذشته ازآن

درین اواخر که باردیګرانتخابات مقدماتي درآن کشورانجام شد درنتیجه جبهه، نجات اسلامي به اکثریت قاطع وغیر قابل پیش بیني دست یافت وبه این ترتیب پیروزي بعدي جبهه نجات اسلامي درانتخابات نهائیي آنکشورکه درماه جنوري سال جاري انجام مي باشد حتمي به نظر مي رسید، لهذا این پیروزي غیر مترقبه، جبهه، نجات اسلامي الجزایرزمامداران قواي نظام آنکشور رابنابر اشارات غربي ها مکلف ساخت تاهرچه زودتر جلو موفقیت چشمګیر جبهه نجات اسلامي را ګرفته وبه این ترتیب دست بیك کودتا زده واعلان حالت اضطراري درآنکشور بقیه سران وفعالین سرشناس جبهـه نجات اسلامي آنکشور را به حیله هاي ګوناګون

دستګیر وراهي زندان نمودند، البته این کار را درګذشته نیز انجام داده بودند، فعلاً مقامات الجزایر باوصف آنك جبهه نجات اسلامي را درآنکشور منحل اعلان داشته اند علاوه برآن اعضاي دستګیر شده آنرا بجرم اینکه نظم عمومي الجزایررا مختل ساخته اند وباعث قتل (۷۵) تن وزخمي شدن (۳۰۰) تن اتباع این کشورشده اند محاکمه مینماید.

خلاصه بادرنظرداشت نکات متذکره وضع ناګوار مسلمانان درسایر نقاط جهان مخصوصاً درکشمیر، فلسطین، فلپین، مصر وافغانستان قابل نګراني بوده ومي باشد، که البته بوضاحت میتوان ګفت که ثمره، همچو مشکلات ها جز ثمره، استعمار ګرانه روس، امریکا، انګلیس وفرانسه چیز دیګري درجهان نمي باشد.

داتحاد اسلامی اوه نیزې کارکوونکي دافغانستان ټولواتلو مجاهدینو ، مهاجرینو اودنړۍ مسلمانانوته دنوي کال په رارسیدو دزړه له کومي مبارکي وائي او هیله من دي چې نوی کال دمجاهدینو ترمینځ داتحاد ، یووالي اوبالآخره له افغانستان نه دکفراو الحاد دجرړو د ایستلو اوپه هیواد کې د یوسوچه اسلامي حکومت د جوړیدو سبب وګرځي .

په روسیې کښې د تاتارستان مسلمانانو دخودمختارۍ په طرفدارۍ رائې ورکړې

د روسیې دیوبل مسلمان میشت جمهوریت اوسیدونکو په اکثریت سره دخود مختارۍ پهطرفدارۍ رأیې ورکړې .

درائې ورکوونکو په سلوکښې ځه دپاسه ٦١ کسانو دپارلمان دهغې پخوانۍ پریکړې چې ویل یې د تیلو دغه غني جمهوریت دي آزاد شي ، ملاتړ وکړ.

د تاتارستان مشرانو ویلي دي چې په دي رایه ګیرۍ کښې خلکو دابه واګه کړه چې د روسیې استعمار سره مقابله کول غواړي .

امریکا غږراډیو وایي چې دشتني دورځې درایه ګیرۍ نتیجه به د روسیې مرکزي حکومت سره د ۱۵۰ ملیونو خلکودملي وحدت په هکله نوي اندیښني راپیداکړي .

له بلې خوا د روسیې دجمهور رئیس لوي مشاور په خود مختار جمهوریت «تاتارستان» باندي غږکړي دي چې د روسیې د برخې په حیث پاتې شي . خو د روسیې د تاتارستان په خود مختاره جمهوریت کې رایه ورکوونکو دجمهور رئیس په غوښتنو رایه نده ورکړې اودازادۍ په پلوي ئې رایې ورکړې دی

د روسیې فدراسیون په شپاړسو جمهوریتونوکې تاتارستان یوجمهوریت دي دا جمهوریتونه د روسیې د ټولي خاورې له دریونه یوه برخه جوړوي چې په هغوکښې لږکي «اقلیتونه» ژوند کوي .

تاتارستان چې دمسکو په ختیځ ۱۰۰۰ کیلومترۍ کې پروت دي د تیلو ډیري ذخیرې لري . د تاتارستان په سلوکې ۵۰ خلك په ترکي ژبه خبري کوي اومسلمانان دي ، په سلوکې ٤٠ روسان اوپاتي نورلږ اقلیتونه دي

د روسیې د اساسي قانون محکمې داخبره ردکړې ده چې دارأیې ګیرۍ غیرقانوني وه اوپا نتیجه به ئې د روسیې حکومت ونه مني .

د روسیې جمهور رئیس «یلتسین» د تاتارستان له خلکو څخه غوښتي دي چې خودمختاري رد کړي ، ځکه چې دغه کار به د روسیې سیاسي سرنوشت باندي بده اغیزه وکړي .

د تاتارستان جمهور رئیس «منتیلن شیمرف» ددغې ویري دختمولو لپاره ویل چې تاتارستان نه غواړي د روسیې له فدراسیون نه جلاشي بلکې تاتارستان غواړي چې له روسیې سره دمتقابل احترام په اساس مساوي حقوق ولري اوخپل طبیعي منابع په خپل لاس کې واخلي .

تاتارستان لکه د روسیې دنورو خودمختارو سیمو په شان خپل پارلمان لري خو د روسیې د مرکزي حکومت ترادارې لاندي دي .

د شوروي اتحاد له رنګیدونه وروسته د روسیې په اکثرو سیموکې جمهوریتونه آزادي غواړي ، په کمونیستي نظام کې له خلکونه داحق اخیستل شوي ؤ .

په تاتارستان کې د خلکو رایه ورکول پداسي وخت کې وشول چې یلتسین له سختو ستونزو سره لاس اوګریوان دي .

د برطانیې حکومت د مسلمانانو په وړاندې متعصبانه رویه خپله کړې ده

په برطانیه کې د مسلمانانو یوه تنظیم «اسلامي پارلمان» د مسلمانانو د تعلیم په هکله یوه اعلامیه خپره کړې او په هغې کې د برطانیې له حکومت نه غوښتنه شوي چې د مسلمانانو لپاره دي هم د دولت لخوا داسې ښوونځې جوړې کړاي شي لکه څنګه چې دعیسویانو اویهودیانولپاره موجودې دي.

د «اسلامي پارلمان» د ښوونې مشر «ډاکټرطارق پرویز» د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کې ویلي دي چې : برطانوي حکومت ددغه ځاي مسلمانان داسې لوري ته راکاږي چې پرته لدې چې دحکومت نافرماني وکړي ، بله لارنه لري .

همداراز په اعلامیه کې غوښتنه شوي چې د برطانیې حکومت دي د مسلمانانو هلکانو او نجونو لپاره جلا جلا ښوونځې جوړکړي .

په چین کښې ۳۰ زره جوماتونه موجود دي

پېښوړ پاکستان دمارچ ۱۸

د دولتي منابعو درپوټ له مخې په اوسني وخت کښې په چین کښې ۳۰ زره جوماتونه موجود دي .

په چین کښې داسې کوم ولایت نشته چې هلته مسلمانان آباد نه وي اوهلته جوماتونه موجودیت ونلري .

چین ته اسلام د دریم خلیفه حضرت عثمان «رض» په زمانه کښې ورسید . د چین تاریخي سرچینو لیکلو په اساس حضرت سعد بن ابي وقاص «رض» د چین ساحلي ښار کانټون ته ورسید اوهلته یې د لومړني جومات دودانې تیږه کیښوده . له هغه نه وروسته د «چوآن» په عهد کښې کله چې قوبلائي خان د چین شهنشاه شو نو ددغه ځاي مسلمانو والیانو او وزیرانو دغلته یوزیات شمیر جوماتونه ودان کړل. له دي وړاندي هم په دغه ځاي کښې یوزیات شمیرجوماتونه ودان شوي ؤ

په بورندوی کښې دیوه کلي ټول اوسیدونکي په اسلام مشرف شول

د بورندوي د هیواد په شمال د «رغومبو» په سیمه کښې د یوه کلي اوسیدونکي په ولډ ایزه توګه په اسلام مشرف شول .

په بورندوي کښې د رابطه عالم اسلامي د دفتر مدیر شیخ «محمد روکارا» له اسلامي تنظیمونو اومسلمانانو نه غوښتنه کړې ده چې هغوي دي دخپلو هغو ورونو چې همدا اوس یې اسلام راوړي دي دخپلو مادي اومعنوي مرستو په وسیلې سره لاس نیوي وکړي ترڅو پدې وسیله وکولاي شو په نوموړي سیمه کښې د «والبرکات» جومات ودان اوله هغه نه د لمانځه د اداکولو اوتعلیمي اوفرهنګي زده کړې لپاره استفاده وکړو .

دازبکستان پارلمان دمشترك المنافع مستقلو هیوادونو له پوځ څخه دخپلو عسکرو درابللو پریکړه وکړه

پېښوړ پاکستان دمارچ ۱۸

دازبکستان دپارلمان په یوقرارداد کښې ددغه هیواد له حکومت نه غوښتنه شوي ده چې د مشترك المنافع دآزادوهیوادونوله ټولنې نه د ازبك عسکر بیرته راوغواړي .

دپارلمان په قرار داد کښې ویل شوي دي،چې هغوي د پوځیانو د سلامتي اودجمهوریتونو دهغو کوښښونو په هکله چې د پخواني شوروي اتحاد د پوځي وسلو مهماتو اوعسکرو باندي د قبضې لپاره یې کوي ، تشویش لري .

همه دشمنان اسلام دست بدست هم داده تا از اقامه حکومت اسلامي درافغانستان جلوګیري نمایند «کشاف»

دیروز یکشنبه ازطرف معهد حرا «اسلامي پروګرام افطاریه اي ترتیب ګردیده بود ودرآن بیش از ٤٠٠ نفر ازمهمانان داخلي وخارجي ، علما ، ومحصلین اشتراك ورزیده بودند . پروګرام بعد ازاداي نماز عصر با تلاوت آیات چند ازکلام الله مجید آغاز ګردید وسپس عبدالله به نمایندګي ازطلاب معهد حرا ، واستاذ صمدي به نمایندګي از لجنة الدعوة بیانیه اي ایراد فرمودند.

همچنان دراین محفل مولوي صاحب عبدالرحیم چترالي درباره فضایل روزه مطالبي ایراد فرمودند وضمن آن خاطرنشان ساختند که مسلمانان باید دراجراي احکام الهي همواره کوشاباشند تا مورد اجروثواب قرارګیرند .

بعد از اداي نماز شام محترم قیام الدین کشاف رئیس دعوت وارشاد طي بیانیه عالمانه ، شان قهرمانیها وفداکاریهاي مجاهدین راستوده وشکست کمونیزم درسطح بین المللي را نتیجه ایثار وقربانیهاي ملت مظلوم افغانستان خواندند .

محترم کشاف افزودند : جهاد ما درساحه ، نظامي به موفقیت چشمګیر نایل آمده ومرحله دوم انقلاب اسلامي ما همانا اقامه حکومت اسلامي بدست مجاهدین است .

رئیس دعوت وارشاد دربخشي ازسخنان شان ګفتند : امروز دشمنان اسلام دست به دست هم داده واز اقامه ، حکومت اسلامي درافغانستان جلوګیري مینمایند .

همچنان در این محفل پارچه هاي تمثیلي و ترانه هاي اسلامي نیز براي اشتراك کنندګان محفل تقدیم ګردید . محفل ساعت هفت ونیم شب بعد ازصرف عشائیه خاتمه یافت .

دنجیب له استعفی ...

لري اودنجیب دقواؤ دمشر جنرال نبي عظیمي هیڅ پته نشته جګړه کې دمجاهدینو تلفات (۲۰) تنه خو ولي درژیم دتلفاتو په هکله مکمل رپوټ لاندي رارسیدلي .

پروفیسور رباني وویل :دمزارشریف ښار دسقوط سره سم دسمنګانو ولایت دایبك ښار تـه دوه زره مجاهدین ورننوتي اوهغه یې قبضه کړي اوپاتې یوشمیر پوستو باندي جګړه دوام لري .

استاد رباني دمزارشریف سقوط په افغانستان کې دصلحي لپاره یو مثبت ګام وبالـه اوزیاتـه یې کـړه چـې دمزارشریف دسقوط له برکته ډاکټر نجیب دیته مجبوره شو تر څو بیاني سیوان په مخکښې اعلان و کړي چې دنوي عبوري حکومت دجوړیدو په صورت کې بـه دخپل قـدرت څخـه استعفي ورکړي .

استاد رباني دیوې پوښتني په ځواب کې وویل چې دډاکټر نجیب داستعفې څخه مخکې دي په کابل کې سیاسي اونظامي قدرت دکابل ولایت دقوماندانانو شورا ته وسپارل شي ترڅو په کابل ښار او نورو لویو ښارونو کې زر ترزره دوینو تویول بند صلح او امنیت دوباره اعاده شي .

استاد « رباني » دسیوان دپروګرام په هکله دیوسوال په ځواب کې زیاته کړه چې زه شخصاً دصلحي پروسې سره خاصه علاقه لرم اوسیوان سره همکاري ته تیاریم خو دصلحي دپروسي شکل او نوعیت چې سیوان واضح کړي نه وي عبوري حکومت کې دلست ورکولو لپاره تیار نه یم .

استاد رباني دمجاهدینو دنه اتحاد په هکله دیوسوال په ځواب کې وویل : چې دمجاهدینو ترمینځ اتحاد ممکن دي اوس خبري دمشرانو ترمینځ رواني دي اوزما په مشرۍ یوهیئت دسیوان سره دملاقات لپاره ټاکلي دي .

استاد رباني په کابل دحملې مخالفت وکړ اوویې ویل چې دښار دوراڼولو څخه دي مخ نیوي وشي اومونږ اسلامي عفوه نظامیانو ته استولي جنګ ته باید ضرورت پیښ نشي اوهم دغربیو ښاریانو دپاره دي دمجاهدینو دکنټرول لاندي سیموکې ددرملو او خوراکي موادو دذخیره کولو بند ویست وشي .

ایران دبین المللی سره صلیب دکمیتمی دفترونه وتړل

تهران دحمل لومړۍ نیټه :

رپوټونه وایي چې ایران په تهران کښې دبین المللي سره صلیب دکمیټې دفتر بند کړي دي او دهغې کار کوونکو ته یې یوه اونۍ وخت ورکړي دي چې له دغه هیواد نه ووځي . دایران خبري آژانس ایرناوایي چې دایران د بهرنیو چارو وزارت دبین المللي سره صلیب دکمیټې ددفتر مشرته ددغې فیصلې په باب خبر ورکړ شو . دایران خبري آژانس ایرنا دبهرنیو روابطو دپاره دبهرنیو چارو وزیر دمرستیال له قول نه وایي دغه اقدام دسره صلیب دکمیټې هغه پرلپسې تخلف له کبله وشوچې دخپلو اختیاراتو او وظیفو نه یې کوي . دغه وظایف دژنیو په کنوانسیون کښې واضح لیکل شوي دي . څه دپاسه یوه هفته کیږي چې دایران مطبوعات دبین المللي سره صلیب په کمیټه باندي دا الزام لګوي چې جاسوسي کوي او دتهران په کورنیو چارو کښې لاس وهنه کوي .

رپوټونه وایي چې دایران دقضایي چارو مشر حیات الله محمد یزدي دجمعې په لمانځه کښې دغه تورونه بیا تکرار کړل . ویل کیږي چې ده داخبره هم کړې ده چې په تهران کښې دبین المللي سره صلیب دکمیټې کار کوونکي بې کفایته دي او ددوي په ځاي بې دنویو کار کوونکو دمقرریدو غږ کړي دي .

دراثرانفجاری ...

است ، ولي یك روزبعد ازحادثه یك نفر که خودرا معرفي نکرد به نمایندګي ازجهاد اسلامي دخالت آن ګروه رادرحادثه رد نمود .

کشورهاي جامعه ...

امریکن برقرارلاکرېي سکاتلیند مضمون میباشند .

لیبیا که میګوید تعذیرات تخطي ازمواد منشور ملل متحد است کوشش میکند حمایت عربها را درمخالفت علیه این تعذیرات صلب کند .

مفسرین میګویند این تعذیرات شاید براي کشورهاي عربي همجوار مانند مصروتونس صدمه رساند ، زیرا اقتصاد آنها با اقتصاد لیبیاپیوند نزدیك دارند .

رئیس جمهور اوکراین ...

کرایچو دریك سخنراني خطاب به سران کشورهاي جامعه ، مشترك المنافع درکیف اظهارداشت که بین جمهوري ارمنستان وآذربایجان برسرمسئله ناګورنو قره باغ جنګ جریان دارد و جمهوري مولداوي نیز ازخون وخونریزي به دور نمانده است .

په مزارشریف کې...

هوائي ډګر باندي دمجاهدینو دبرید په ترځ کي هوائي ډګرویجاړشوي ، یوعراده ټانك دری عرادې جیپ موټر ، دري میله پیکا ، دري میله راکټ او ۲۲۰ میله کلاشینکوف مجاهدینوته د غنیمت په توګه په لاس ورغلي دي .

په خبرکي ویل شوي چې : دمزارشریف د ښیړي آزادي لپاره دحق او باطل ترمینځ نښتي دواړ لري .

په الجزایرکښې د مسلمانو زده کوونکو مظاهري

امریکاغږراډیو- دحمل «۱»

په الجزایرکښې مبارزو مسلمانانو دمظاهرونه یوه ورځ وروسته چې یوکس پکښې وژل شوي ؤ دحکومت ضدنورې ناکراري پیښې شوي دي !

حکومتي راډیو وویل پاریدلو شاګردانو په الجزایر کښې په یوه پوهنتون کښې دجومات په تړلو داعتراض ښودلو دپاره مظاهره کړې ده .

شاګردانو دپوهنتون مقامات مجبور کړي چې د قسطنطیني دښار پوهنتون چې یوه هفته مخکښې درس پکښې شروع شوي ؤ بیا وتړي .

دربرخوردهای ...

ازکُردها بروز شنبه درسراسر منطقه جنوب شرق ترکیه نافذ شده است سلیمان دیمیرل صدراعظم ترکیه خواهان خاتمه خونریزي شده وامر صادر نمود که یك تیم مشتمل ازچهار وزیر ارشد جهت تحقیق عازم منطقه ګردند .

ضمناً قواي امنیتي دولت درحالت اماده باش کامل درآمده است تامبادا شورشیان یك تعرض بزرګ بهاري را براه بیاندازند .

تبدیلی نام

طالب العلم ضیاء الحق مسعودي ولد حاجي نثاراحمد متعلم مدرسه وسراج الاسلام ، کهي مسکونه ولسوالي پل علم قریه هونی سفلا ولایت لوګر فعلاً باشنده کیمپ کهي اسم خودرا به عبدالحق مسعودي تبدیل نموده است برادران مطلع باشند.

جنګ سختی بین ...

ګزارش میافزاید چند پوسته رژیم دست نشانده کابل درمناطق ګروبین ودهن پیاز ولسوالي دوشي ولایت بغلان بتاریخ ۱۳ مارچ بدست مجاهدین فتح شده است .

ګزارش حاکیست (۱۰) نفر ازافراد رژیم درین عملیات اسیر (۱۲) میل کلاشینکوف ، یك میل پیکا ، یك راکت ومقادیر قابل ملاحظه به غنیمت مجاهدین درآمده است .

درګزارش ازتلفات وخسارات مجاهدین ناشي ازین عملیات چیزي ګفته نشده است .

اعـــــلان

به اطلاع آنعده اشخاصیکه امسال (۱٤۱۲هـ ق) عازم بیت الله شریف میباشند رسانیده میشود که ازتاریخ ۱۰ رمضان المبارك إلي اول ذي القعده سال جاري بادرنظرداشت سلسله مراتب غرض تهیه اسناد به ریاست امورسیاسي اتحاد اسلامي افغانستان مراجعه نمایند قیمت تکت و خاکپولي ۲٦۵۰۰ کلدار بوده ومصارف اعاشه و اباته حجاج درعربستان سعودي به عهده ، خود آنها میباشد .

ازطرف ریاست امورسیاسي

اتحاد اسلامي افغانستان

آدرس : ببي جبرات رود دفتر مرکزي اتحاد اسلامي افغانستان

کشمیري مجاهدینو

لاس پورې کړ چې یو شمیرې دهندي قواؤ ځوا ونیول شول او خپلو مرکزونو ته بې دپوښتني او تفتیش لپاره یووړل. همدارنګه کشمیري مجاهدینو دپلوامه کپواړه ، ګللکام او کروسا په سیمو کښې دهندي قواؤ په پوځي مراکزو باندي عملیات ترسره کړل چې دهغې په نتیجه کښې ددغو قواؤ دوه ډیپوګان له مینځه تللي دي . دخبر له مخې پدي عملیاتو کښې ددښمن څخه یو زیات شمیر پوځیان مړه او ژوبل شویدي .

دتورخم دواړوغاړوته ...

چې د نوموړي مرګ شاید یوه سیاسي انګیزه ولري ولې نورې منابع وائي چې دي په خطائي ډول د دوو قبایلي متحاربو ډلو ترمینځ په جګړه کې لګیدلي دي .

ددغه اروابناد جنازه کې په نورو برسیره دافغانستان د اسلامي اتحاد امیر پوهاند سیاف هم ګډون وکړ اوراغونډو شوو عربي ورونو ته یې دډاډینې اوزغم توصیه وکړه .

له بله پلوه پرون سهار یوولس بجې دافغانستان دننه دتورخم سیمې ته نژدې په یومصري مجاهد چې ابوعنتزنومیږي اوتږدي ۳۵ کاله عمرلري دنامعلومو ترورېستانو لخوا د کلاشینکوفونو ۱۵ فیره وشو چې په نتیجه کې د نوموړي یوتن ملګري شل کلن ابوعبدالله چې هغه هم مصري تبعه دي په دري مرمیو باندي ولګید چې فعلاً د پېښوریه یوروغتون کې بستردي خو ویل کیږي چې دهغه صحي حالت له خطر څخه بهردي .

کتونکي وائي دغه دواړه پیښې چې تقریباً په یوه سیمه کې او یووخت کې د عربو مجاهدینو په ضد ترسره شوي شایدیخپل مینځ کې قوي ارتباط ولري.

یوي بلې باوري سرچینې چې دخپل نوم د اخیستلو څخه ئې ډډه وکړه الښیان ته وویل چې کیداي شي دغه کار دطورخم جلال آباد د لویې لارې د بیا پرانستلو لپاره د یوفشار په توګه ترسره شوي وي ، اوپه آینده کې ئې د تکرار هیله کیږي .

مجاهدینو دغور اوکندهار ...

دروازې په سیمه کې درژیم پریوې پوستې برید وکړ چې دهغې په اثر نوموړي پوسته فتح (١٤) تنه عسکراوملیشه مړه ، یوشمیرټپیان او اوه تنه نور ژوندي نیول شوي دي .

دخبرځاي درپوټ له مخې مجاهدینو پدي جګړه کي دکابل رژیم د قواو دوه عرادې نظامي لارې سوزولي اویومیل هاوان ، یوراکټ ، (۲۰) میله کلاشینکوفونه دزیاتي اندازې مهماتو سره په ولجه نیولي دي .

په رپوټ کي دمجاهدینو دتلفاتو په هکله څه ندي ویل شوي .

دیرپیلوټ په مقابل...

ابودردا ، دوه نیم کاله دمخه په جلال آباد کې دکمونستانو لخوا نیول شوي او بیا دڅرخي پل زندان ته استول شوي وو ، اوهمدارنګه ابو جهاد دري کاله دمخه درژیم دقواؤ په لاس کې لویدلي ؤ چې بیا وروسته دتحقیقاتو لپاره کابل ته لیږدول شوي اوافغانستان ته دغیر قانوني داخلیدو په جرم محکوم شوي ؤ .

ذکر شوي منبع زیاتوي چې ابوجهاد پوره دري کاله دپلځرخي په زندان کې تیرکړیدي .

همدارنګه یو بلې منبع په تلیفون کې البنیان ته وویل چې نور (۱۱) تنه افغاني مجاهدین چې په مختلفومودو بند باندي محکوم شوي ؤ او دجمعیت اسلامي او اتحاد اسلامي غړي دي په نوموړي تبادلې کې آزاد شوي اوتمه کیږي چې په راتلونکو څو ورځو کې پاکستان ته راشي .

په بـــرماکښی...

جګړه شروع شوه خو حکومت ددغې جګړې داوږ دمړکولو لپاره په برماکښې عام انتخابات تر سره کړل . په انتخاباتو کښې د «اون سانګ سوکي» ګوند اکثریت تر لاسه کړ مګر پرځاي ددي چې پوځ قدرت منتخب حکومت ته په لاس ورکړي پوځ په هیواد باندي خپله ولکه ټینګه کړه اوپه عامو خلکو اومسلمانانو باندي یې سخت ظلمونه شروع کړل لکه چې اوس دشمال له لوري دهند سرحد ته نیږدې د «ناګالیند» په سیمه کښې ، جنوب شرق کښې تایلند دښیلا ښار سره نژدې او دبنګله دیش سرحد ته نژدې داراکان په سیمه کښې دبرمایي پوځ ددغو ظلمونو په ضد آزادي بښونکي مبارزې رواني دي داراکان په سیمه کښې که څه هم جبهات دومره قوي ندي مګر دزیات اهمیت وړدي ځکه چې ددغې سیمې اکثریت خلك مسلمانان دي چې دبرمائي پوځ دظلم او وحشت له امله یې بنګله دیش ته هجرت کړي دي نو دنړۍ آزادي خوښونکو آزادوهیوادونو او ملګرو ملتونو ته په کار دي چې ددغو مسلمانو مظلومو مهاجرینو ننګه وکړي خو دحیرانتیا خبره داده چې ملګري ملتونه دبرمایي مهاجرینو لپاره دامداد ورکولو څخه انکار کړي دي . په دي لړ کښې دبنګله دیش دبهرنیو چارو وزیر مستفیض الرحمن ویلي دي چې دوي به دبرمایي مهاجرینو لپاره په خپل هیواد کښې دآبادي موقع ورنکړي تر څو ملګري ملتونه دمهاجرینو لپاره امداد ورکول قبول نکړي .

خو که چیرې دبرما دحکومت دغه ظلمونه دوام پیداکړي نو کیداي شي چې په دغه هیواد کښې سیاسي وضع خرابه شي او خلك دي د مادام سوکي » ګوند قدرت ته ورسوي . نو پدي صورت کښې کیداي شي چې په دغه هیواد کښې هم دجمهوریت ځښې ځپانده شي او هم داراکان څخه هجرت کوونکي مهاجرین بیرته خپلو کورونو ته ستانه شي .

پتــــه :
پېښور - پاکستان
P.O.BOX---- 467